آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۱/۳۰

# لارورکي لارويان

## دیرشمه برخه

### نا لیدلي، نا پیژند لي لا ري:

سهار لا موږه ویده وو چي کوټي ته یوه دنګه غنم رنګه ښځه را ننوته. ټول ور ته هک پک شوو چي دا راني له کومه شوه. ښځه لکه زموږه ترور یا کلیواله چي وي، پنجابي کالي آغوستي، ټیکری یې په غاړه کي پروت او په خندا، کي هر یوه ته سهار په خیر وایي.

ما خو فکر وکړ چي یا خوب ګورم او یا دا ښخه له افغانستان یا هندوستان نه کوم باد یا طوفان دلته راغورځولي ده. ښځه زموږ په تعجب پوه شوه او په مهربانه او نرمه لهجه یې و ویل چي څه موده یې په هندوستان کي کوم ماموریت کړی دی. ښځي په انګلیسي ژبه و ویل چي د دي ځای آمرین غواړي تاسو سره خبري وکړي، تاسو کي کوم څوک که په انګلیسي پوهیږي، نو رادې شي. په ډله کي ځیني پوهیدل چي زه په پوهنتون کي استاد وم، نو دوی په یوه غږ و ویل: استاده جګ شه، ورشه ترجماني وکړه!

ما دوی ته په آرامه لهجه و ویل چي زما دومره انګلیسي نه ده زده چي زه دي ستاسو ټولي خبري وژباړم او ستونزي دي ټولي حل شي. دوی ویل نه، ور جګ شه!

ښځه زموږ په ژبه نه پوهیده، خو زموږ له اشارو او د کلام له سیاق نه داسي پوه شوه چي زه ګني د ډلي مشر، د مسافرو لارښود یعني قاچاقبر یم.

بس زه یې جګ کړم، ویل یې اول ته راځه. د مسافرو له ډلي نه یو زلمی راجګ شو، ویل یې چي زه ترجماني کوم. څه د استخباراتوغونډي خلک و، د دوو ساعتونو په اوږدو کي یې داسي پوښتني را نه وکړې چي ما په ربښتیا ځان مجرم احساساوه او دومره یې تنګ کرمه چي نږدې مي له ډیرې غصي ور ته ویلي و، چي هو زه قاچاقبر یم او دا خلک ما راوستي دي.

په لومړي سر کي دوی د ریښتیني مجرم یعني قاچاقبر په ګمان له ما نه تحقیق کاوه چي څنګه، له کوم ځای او کومي لاري نه دې دا خلک راوستي دي؛ ملګري دې څوک او په کوم هیواد کي دي؟

ما په ډیره سره سینه ورته ویل چي زه مسافر یم، قاچاقبر نه یم. بیا نو ښایي دوی هم ستړي شوي وي، ځکه یې پرېښودم. بیا یې نور مسافر، یو یو ور غوښتل، شهرت او تابعیت یې ثبتاوه.

درې ورځي په دې تانه کي لکه د سلطان محمود لټان پراته وو. ټولو مسافرو بسم الله کوله چي بیرته مو دیپورت نه کا، خو درې ورځي وروسته زیری راغی چي له بیرته لیږلو نه خلاص یو او د مهاجرو کوم کمپ ته مو لیږي.

یو زندان ډوله بس موټر راغی چي ګرکیوته یې د زندان د پنجرې په څیر ډبل سیمان نیول شوي وو. وروسته په کمپ کي افغانانو کیسه کوله چي دا موټر هر کله له دې سرحدي تاڼي نه مهاجرین کمپ ته لیږدوي، په اول کي د موټر ګرکیو ته سیمان نه وو نیول شوي، خو وروسته له هغه چي کوم بد مرغه افغان او کوم بل مهاجر کمپ ته د لیږدولو په وخت کي فکر کړی و چي دوی بیرته دیپورت کوي، نو یې ځانونه له کړکۍ وغورځول او ځای پر ځای مړه شول، بیا نو مقاماتو سرویس ته د زندان غونډې سیمان ونیول.

موږ هم د همدې زندان ډوله بس په وسیله کمپ ته ولیږل شوو. کمپ د هنګري په دبرسن نومي ښار کي و، ځکه یې دا د دبرسن په نامه نومولی و.

پنځه لس ورځي په دې کمپ کي پاتي شوو. په کمپ کي د بیلابیلو هیوادونو مهاجرین را ټول کړای شوي وو. په دیوالونو باندې په روسي ژبه لیکل شوي عسکري قوماندې، شعارونه او د مارکسیستي رهبرانو ځیني مقولي د دې ګواهي ورکوله چي دا به د روسانو کومه نظامي اډه وه.

مسافرین په جلا، جلا لویو او وړو کوټو کي ځای پر ځای شوي وو. ډوډۍ په یوه لوی صالون کي ورکول کیده. څو ورځو کي زموږ صحي معاینات بشپړ شول.

له موږ نه پخوا راغلو افغان مسافرینو ویل چي څو ورځي وروسته تاسو ته یوه پیژند پاڼه درکوي، بیا کولای شئ له کمپ څخه و وزئ او ښار ته ولاړ شئ. دوی داسي نه دي لکه روسي پولیس، مهربانه دي، هر کله یې خوله له خندا ډکه وي او...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بنی پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ما ته تر ټولو جالبه دا وه چې په هنګري کې وروسته د شخص له نامه نه د پلار نوم نه، بلکې د مور نوم لیکل کیږي. فضل د خپلې مور د نامه په ویلو شرمیده. د کمپ مامورینو ته یې رښتیا و نه ویل. د مور نوم یې کوکوګل ورکړ او خپل نوم یې هم غلط ور ته و وایه.
بله ورځ چې د کمپ مقاماتو د ښار کوم کلینک ته د صحي معایناتوله پاره لیږلو، د هر یو تن نوم به یې اخیسته او موټر ته به یې جګاوه. د فضل بدل نوم یې چې واخست، فضل نه بیا خپل بدل نوم هیر و. دوه درې ځلې غږ وشو، فضل پوه نه شو. بیا یې د مور ورکړی بدل نوم تکرار شو، خو د ده بیا هیر و. کوم یوه په پښه پورې واهه ور ته وي ویل:
جګه خوا رشې، په نامه او د ادې په نامه دې هم خبر نه یې.
زه چې له کوره را وتلی وم، بیا مې له خپلې کورنۍ سره اړیکې نه وې نیولې. په دې کمپ کې له لسو ورځو اوسیدو نه وروسته مې وکولای شول چې له خپلې کورنۍ سره تیلیفوني خبرې وکړم.
د قاچاقبر استازی تیار په کمپ کې ناست و، څه هدایت چې خپلو آمرینو ورکاوه، هغه یې کول. د موبایل تیلیفون له برکته خدای دوی ته هر څه آسانه کړي وو. نه د لیک حاجت و، نه د ریبار. تیلیفون به یو خوږ موزیک وغږاوه، سړي به بلې و ویل او مشر به یې هدایت ورکړ. په شپاړسمه ورځ یې زموږ د حرکت حکم صادر کړ.
دا حاکم او واکدار څوک و؟
چیرې په کوم دربار کې ناست و؟
موږ نه پیژانده او نه مو لیدلی و، خو زموږ سرنوشت یې اوس په لاس کې و.
ښایي افغانانو ته به همداسې لیکل شوي وي چې خپل واکدار او آمر نه پیژندلی، نه لیدلی او نه غوره کړی؛ خو اوامر یې مني او دې ته اړ ایستل شوي دي چې صاحب، صاحب ور ته و وایي.
ما څو ځایه د افغان مهاجرینو له خولې د همدغو آمرینو له ډلې نه د یوه نوم اوریده، هغه شمس کوهستاني و. وروسته چې ما د هنګري، سلواک، چک، جرمني او ډنمارک په کمپونو کې پوښتنه وکړه، دا د هغه خپل نوم نه و، خپل نوم یې چا ته نه ښوده. د اوریدو له قراره، له پورته یادو شوو هیوادونو نه په کوم هیواد کې یې د هماغه هیواد له کومې ښځې سره د واده کولو له لارې قانوني ژوند او قانوني اسناد تر لاسه کړي وو او په بدل نامه یې د انسان ترافیک هم کاوه.
د هنګري په همدې کمپ کې یو بل تن افغان مهاجر زموږ د ډلې ملګری شو. دا افغان محمد کبیر نومیده، د لوګر ولایت اوسیدونکی و او ځان یې ډګروال معرفي کاوه. دی په همدې هنګري کې یو وار د اسنادو د نه درلودلو او غیرقانوني سفر په وجه نیول شوی و او د غیر قانوني مهاجر حکم ورباندې ثابت شوی و.
که په هنګري کې که په چا باندې د غیر قانوني مهاجر حکم وشي، نو بیا یې نظامي کمپ ته استوي چې د زندان حیثیت لري.
د کبیر خان د خبرو په استناد، ده په دې کمپ کې شپږ میاشتې تیرې کړې وې. بیا یې کوم بل کمپ ته لیږلی و او په پای کې په دوبره سن کمپ کې له موږ سره یو ځای شو.
کبیرخان د نظامي کمپ د خاطراتو په لړ کې کیسه کوله چې په هغه کمپ کې یوه افغانه جلۍ او یو افغان زلمی چې سره خور او ورور کیدل، هم بندیان وو. دا خوراو ورور په کوم ډول د زندان د بام له لارې له زندان څخه تښتیدلي وو. زندان ته نږدې کوم ښار ته چې رسیدلي وو، له عامو خلکو سره د دوی د جامو او کړو وړد توپیر په وجه خلکو پولیسو ته راپور ورکړی و، پولیسو نیولي وو او بیرته یې زندان ته استولي وو.
بیا یې په نظامي کمپ کې له چا سره په شخړه کې وهل ټکول وکړل او د هلک دومره وهل شوی و چې ډېط یې لکه تور بانجان تکې شنې او له داغونو ډکې وې.
دغه خور او ورور د نوي عیسوي کال د را رسیدو په درناوي له نظامي کمپ څخه خلاص شول او له خپلو امکاناتو نه یې په استفادې سره ځانونه ډنمارک ته ورسول، هلته په لومړنۍ انتریو کې هلک د خپلو ډېو داغونه پولیس ته وربښودلي وو او ویلي یې وو چې زه طالبانو وژلم، دغه حالت ته یې رسولی وم چې ما ته د تښتیدو زمینه برابره شوه دا دي زه ډنمارک ته راغلی یم، څه را باندې کوئ. په دې ډول دې خور او ورور لکه نور ډیری افغانان په افغانستان کې د طالبانو د موجودیت په وجه مثبت ځوابونه واخستل.
د هنګري په دبره سن نومي کمپ کې زموږ د ډلې د پاتې کیدو وخت پوره شو. غرمه مهال یې موږ ته خبر را کړ چې مازدیګر حرکت دی. په ټاکلي وخت د قاچاقبر استازی راغی موږ یې پوه کړو چې که په عمومي دروازه وتلای شئ ، و وزئ، که نه شئ کولای نو په دیواله واوړئ.
د کمپ د لوی او پراخ انګړ په یوه اړخ کې یې د دیواله یوه کنډوه برخه وښودله چې ټول په هغه ځای واوړو. ډیری مسافرین چې ځوانان وو، په چټکۍ سره په دیواله واوښتل، خو وروستۍ ستونزه د هغې افغانې میرمنې وه چې یو ماشوم او پنډکی یې په لاس کې و او یو ماشوم یې په نس و. موږ په اول سر کې له افغاني حیا نه لاس نه ور وړ، خو په چټکتیا او لوړ آوازغږ وشو:
ژر کوئ چې هلته پاس په دویم پوړ کې د کمپ اداره ده او کړکۍ یې هم په همدې خوا را خلاصې دي، څوک مو و نه ګوري او پولیس ته تیلیفون و نه کړي. په همدې کې یوه جګ قوي افغان زلمي چې دیواله ته ختلی و، پر ما غږ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

وکړ چي استاده په شرم او حیا پسي مه ګرځه را نیسه. اول مو د ښځي ماشوم او پنډکی پوري ایستل، بیا مې ښځه ور جګه کړه او هغه له دیواله نه بلې خوا ته ښکته کړه.
موږ ته ویل شوي وو چي د کمپ په اړخ کې په غځېدلي واټ باندې مخامخ لاړ شو، بیا ښي لاس ته په دریم سرک باندې ور وګرځوو. هلته یو سپین بس ولاړ دی، پرته له څه ویلو به ورخیژئ.
د ننداري دا پرده هم په بریالیتوب پای ته ورسیده. افغان قاچاقبر د بس له ډریور سره څنډې ته شول، لکه پخوانیو یارانو غونډي یې یو بل ته په غوږو کې څه و ویل، ښایي د رمې شمېر به یې ورکړی وي.
سم مي په یاد نه دي، ښایي پنځه ویشت تنه به وو. بې آدرسه مسافرین په بس کې پرته له ستونزې او څه ویلو ځای پر ځای شول او د ماښام په خړه کې موټرحرکت وکړ.
د رڼا او تیارې په جګړه کې مې تر څو چي سترګو مرسته را سره کولای شوه، له موټر نه د باندې منظرو نندارہ مي کوله. موټر پر لویه لاره ښه په مزه روان و، ښایسته ډېر وخت به تیر شوی و چي د موټر څغاسته لږ ورو شوه او د باندې مي په یوه لوحه سترګې ولګېدې چي پرې لیکل شوي وو:
بوداپست ته ښه راغلاست!
دا د هنګري پلازمینه وه. نور موږ په بوداپست کې وو، موټر په یوه پاټک ډوله ځای کې ودرید، مار چیچلی له پړي ډارېږي، موږ ډارېدو، خو خبره د ډارنه وه مسافرو د کوم چکینګ خیال کاوه، خو داسې نه وه. دریور ښکته شو، یا یې د حق العبورغونډې څه پیسې تحویل کړې او یا یې څه کاغذونه مسؤل نفر ته ور وښودل او بیا وخوځېد.
د هنګري ـ سلواک پولې ته نږدې یې له موټر نه ښکته کړو او نورو خلکو ته یې وسپارولو. نوو خلکو داسې څغاستې، حملې او خبرې کولې لکه د یوه عسکري تشکیل مشران چي وي.
تر ټولو مهمه او جالبه خبره خو دا وه چي له ماسکو نه تر ډنمارک پورې، کومو خلکو ته چي په بېلابېلو ځایونو کې مسافرین سپارل کیدل، ټول په روسي ژبه پوهېدل او ورته ویل شوي وو چي ټول افغانان په روسي ژبه پوهېږي.
د تیارې تور څادرغوړېدلی و، سم نه لیدل کیده چي تپه وه که غر، خو ورنه لاندې سرک غځېدلی و. د واټ پر اړخ امنیتي پوسته وه. ډیر موټر ولاړ وو او هر څوک پوهیدل چي دا امنیتي پوسته ده. موږ یې د امنیتي کسانو تر ږیرې لاندې په یوه کرونده کې د ونو د منظمې لیکې په امتداد خوځولي وو.
ناڅاپه د دریدو غږ وشو. دې نوي سیمیز قاچاقبر زموږ د ډلې یوې افغانې میرمنې ته مخ ور واړاوه او ښه بد رد یې ور ډالې کړل. د هغې ښځې د ډاکترانو په شان یوه سپینه بالاپوش ډوله چپن په تن وه، دا سپین رنګ د شپې په تیاره کې له لرې ښکاریده او د برید له کربښې نه یې زموږ په غلا اوښتل رسوا کول. قاچاقبر ښځې ته و ویل:
«ادې دې ډاکتره وه که آبا دې، چي د هغو په یاد دې سپینه چپن اغوستې ده؟
ژر یې وباسه!»
ښځې په بیړه چپن وایسته او روانه شوه.
نور نو د سلواک خاورې ته اوښتي وو. لږ چي وړاندې لاړو بیا د دریدو غږ وشو، وې ویل چي د ونو په بیخونو کې ځانونه غلي کړو. ټول کیناستل. له چا نه سپږ نه خوت، چوپتیا حکم چلاوه.
یو تن افغان چي شمس نومیده او ځان یې پنجشیري او جنرال معرفي کاوه، زما په څنګ کې ناست و. زما پام یې د لاس په اشاره پاس په آسمان کې الوتکې ته ور واړاوه. پاس مي کتل چي الوتکه په آرامتیا د هوا زړه ور څیري او د وړاندې تګ تکل کوي. موږ هم د وړاندې تګ تکل درلود. دوه بیل مزلونه، دوه بیل تکلونه. چیرې زموږ مزلونه تکلونه او چیرې د هغوی مزلونه او تکلونه. هغو مسافرانو ته هره شیبه یوه ښکلې جلې ډوډۍ او اوبه په لاس ولاړه وي؛ خو زموږ په کولمو کې له لوږې لمر راختلی و او هره شیبه د پولیسو او مرګ په انتظار کې وو. هغوی په آرامه فکر او ډاډه زړه ناست وو او زموږ پر مغزو او ذهن باندې د ویرې او بې سرنوشتۍ بلا حکومت کاوه.
بیا وخوځېدو، د یوه ساعت مزل به مو کړی و، چي بیا یې ودرولو. څو ګامه وړاندې په یوه تیاره کې یو زوړکیړی موټر ولاړ و، تا به ویل ګنې د افغانستان کومې لرې کلیوالې سیمې ته راغلي یو. د موټر په لیدلو سره ما ته زموږ د یو کلیوال، کاکا طاهر خبره را یاده شوه چي د دغسې زاړه موټر په لیدلو سره به یې ویل:
«اینه زنبیل غم آمد.»
همدې د غم زنبیل ته یې ور جګ کړو او موټر وخوځېده.

## د سلواک څڅوبې:

له ښاري ګڼې ګوڼې نه لرې په یو کلي کې د یو کور اړخ ته موټر ودرید. بیا یې هم په ډېره بیړه کور ته ور ننه ایستو. په کور کې یو پخلنځی او دوې کوټې وې. په بیړه هر چا ځان ته ځای خوښ کړ. زه او فضل د یو دوه کسیز تخت پر سر ځای پر ځای شوو، خو څنګه چي په کور کې د مسافرو له پاره ځای تنګي کوله، دوه تنه نور هم پر همدې تخت پریوتل. د کمپلې او توشکې په نامه څه شی نه وو، ټول لوڅ لپړ څملاستل.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ستړي مسافران ډېر ژر د خوب ځپو بلي دنیا ته بوتلل. د کور کړکۍ هماغسې په سترکي خوندې وې، ډبلې برستن ډوله پردې ور ته نیول شوې وې، نه موږ څوک لیدل او نه موږ ه چا لیدلو. کوټې داسې مردارې وې تا به ویل چې په کلونو هم نه دي پاکې شوې.
د سهار نه، نه نیمې بجې وې چې کړپ کړوپ شو، ور پرانستل شو، دوه زلمي هلکان وو، موږ ته یې وچه ډوډۍ او کوچ راوړي وو. پرته له پوښتنې او خبرو هر څه له ستونې ښکته شول. ښه و شا و خوا نورکورونه نه وو، له کور نه لږ وړاندې د ریل کرښه غځېدلې وه. موږ څه نه لیدل، یوازې هر نیم ساعت یا یو ساعت وروسته مو د ریل ګاډې غږ اوریده چې په ډېره چټکتیا سره به تېریده. د جګې خندا او خبرو کولو بندیز نه و، ښې په مزه ټوکې او خندا ګانې مو کولې.
بیا سهار ماښام شو، د تیارې څادر وغوړېد. په درانه خوب ویده وو. ځای مې لکه ګور داسې تنګ و، په اړخ نه شوم اوښتې، ډېر شخ شوی وم، چې په اړخ کیدم را ویښ شوم. د سنبلې د میاشتې وروستۍ شپې ورځې وې. د شپې له خوا هوا سړه او د ورځې له خوا توده وه، په کور کې د خلکو شمیر د زیاتوالي په دلیل کوټې ډېرې تودې وې. د کوټې د تودوالي په خاطر د کوټې چت خولې شوی و او که باران شوی و، پوه نه شوم، خو د څڅوبې غږ مې تر غوږ شو:
ټک، ټوک، ټاک.
کوټه لمده خیشته وه. جنرال شمس په یوه لرګینه څوکۍ د پښو پر سر ناست و. ما پوښته ځینې وکړه:
چې ولې ویده کیږې نه؟
هغه و ویل:
«اتاق کلش تر اس، اي چکک امینجام کون ماره ایلا نمیته.»

د دیرشمي برخي پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ